**د افغانســـتان اســـلامی امارت**
**د ارشـــاد ، حج او اوقافو وزارت**
**د مساجدو داراشاد او انسجام رياست**
**دارشاد او دعوت آمريت**
**د خطبو دتنظيم عمومي مديريت**

---

**دجمعې د خطبې لاربښود مؤرخ: ۱۴۴۳/۸/۱۴هجری قمری مطابق۱۴۰۰/۱۲/۲۷هجری شمسی**

# د دعاء د قبلیدو اسباب، وختونه او ځایونه

الحمد لله رب العالمين أمر بدعائه ووعد أن يجب من دعائه وأشهد أن لآاله الا هو، وحده لاشريک له ولا نعبد الا اياه وأشهد أن محمداًعبده ورسوله صلى الله عليه وسلم وآله واصحابه ومن والاه وسلم تسليماً كثيراً.
اما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى:{وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ} الغافر:(٦٠)

وقال تعالى : { وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيبُوا لِي وَلْيُؤْمِنُوا بِي لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُونَ} البقرة: (۱۸۶)

## ددعاء مفهوم او حقيقت:

ددعاء د حقيقت په اړه امام خطابي رحمه الله داسې فرمايي:(وحقيقته: إظهار الافتقار إلى الله تعالى، والتبرُؤ من الحول والقوة، وهوسمة العبودية، واستشعار الذلة البشريه وفيه معنى الثناء على الله عزوجل واضافة الجود والكرم إليه".

يعنی دعاء په حقيقت کې خپل حاجت او فقر الله جل جلاله ته وړاندې کول دي او دهر ډول انساني قوت او طاقت څخه ځان بيزاره کول دي، دعاء د عبادت نښه او دبشري توان عاجزه ګڼل دي. په دعاء کې پر الله تعالی ثنا ويل دي او الله جل جلاله ته د سخا او مهربانی نسبت کول دي.

د پورتني مفهوم په اساس ويلو شو چې دعا دعبوديت او بندګۍ راز او رمز پروت دی او انسان دې ته اړ باسي چې په خپلې نا توانۍ، بې چارګۍ او ذلت باندې اعتراف وکړي. همدا راز په دعاء کې الله تعالی لپاره د حمد او ثنا اظهار دی. ددعاء په ذريعه د الله تعالی د هر ډول جود او کرم خپل لوری ته را ګرځول دي.

## د دعاء اهميت او فضيلت :

پورتني مبارک آيتونه د ددعاء په فضيلت او اهميت باندې دلالت کوي. لکه چې په لومړني آيت کې الله هغه کسان چې د الله جل جلاله په ربوبيت باور لري، مکلف کړي دي؛ ترڅو دهغه بندګۍ ته تن کيږدي، خپل ټول حاجتونه او ضرورتونه له هغه څخه وغواړي؛ ځکه يواځې رب تعالی دی چې د خپلو بندګانو فرياد اوري او دعاګانې يې قبلوي او بالمقابل هغه کسان چې د الله جل جلاله دعبادت څخه سرغړونه کوي؛ هغه يې مستکبرين او کبرجن بلي دي او هغوی يې د دوزخ مستحق ګرځولي دي.

په دوهم آيت کې ، پس له هغې چې الله جل جلاله ځان بندګانو ته د علم په بنا نږدې بللی دی ، دبندګانو د ددعاګانو لپاره يې يو لړ اسباب او شروط تعيين کړي دي چې دا اسباب او شرطونه په لاندې ډول دي:

۱- په دعاء کې اخلاص؛ چې دی شرط او سبب ته په(اذا دعان) سره اشاره شوی ده.

اخلاص د الله جل جلاله ته زاری او هر ډول عبادت کې د هر ډول رياء او دمخلوق د شريکولو څخه ځان لری ساتل دي. يا په بل عبارت سره مسلمان چې هر څه غواړي ؛ يواځې د الله جل جلاله څخه دې به يې غواړي؛ ځکه الله تعالى فرمايلي دي: {وَإِن يَمْسَسْكَ اللّهُ بِضُرٍّ فَلاَ كَاشِفَ لَهُ إِلاَّ هُوَ وَإِن يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلاَ رَآدَّ لِفَضْلِهِ يُصَيبُ بِهِ مَن يَشَاء مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ}يونس: (۱۰۷)

**ترجمه:** او که چيرې الله تعالى تاته کوم تکليف ورسوي ، نشته لری کوونکی د تکليف مګر يو الله دی او که چيرې وغواړي تاته د خير رسول ، نشته څوک منع کوونکی د هغه د مهربانی ، رسوي خپله مهرباني هغه چاته چې خوښه يې شي د خپلو بندګانو څخه او دی ( الله جل جلاله) ښنونکی اوزيات مهربانه.

امام قشيرى رحمه الله د اخلاص په تعريف کې فرمايي: (ويصحّ أن يقال: الإخلاص: تصفية الفعل من ملاحظة المخلوقين). الرسالة القشيرية

دا هم درسته ده چې وويل شي؛ اخلاص: د مخلوق له ملاحظاتو څخه پرته د کړنې پاک ساتل دي.

۲- د الله جل جلاله د حکمونو منل چې د (فَلْيَسْتَجِيبُواْ لِي) جمله په اړه تصريح کوي.

۳- په دې عقيده او باور درلودل چې الله جل جلاله د خپلو بندګانو غوښتنې او دعاګانې قبلوي، چې د(وَلْيُؤْمِنُواْ بِي) په جمله کې همدې شرط ته اشاره شوی ده.

بناءً دې مبارکو آيتونو ته په کتو سره دا خبره په ډاګه کيږي چې دعاء او الله جل جلاله ته فرياد کول د عبادت تر ټولو لوی عبادت دی ؛ د ددې عبادت لويي او عظمت له دې ځايه ښه معلوميږي؛ عاجزي او فروتني چې د ټولو عباداتو روح دی په دعا کې زيات تمثيليږي . د همدې کبله په آحاديثو کې دعاء ته دعبادت مغز ويل شوی دی او دعاء په عباداتو کې غوره عبادت دی.

د دعاء د فضيلت او اهميت په اړه د پورته آيتونو څخه علاوه ګڼ شمير آيتونه او آحاديث موجود دي چې د دعاء په فضيلت دلالت کوي؛ چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

۱- دعاء غوښتل او د الله جل جلاله څخه د خپلو حاجتونو سوال کول، د پيغمبرانو د غوره خصلتونو څخه وو؛ چې الله تعالى دپيغمبرانو ددې صفت ستاينه کړی ده. الله جل جلاله فرمايلي دي:{إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ}الانبياء: (۹۰)

**ترجمه:** بيشکه هغوی(زکريا، يحيى عليهم السلام)  هغه کسان ؤ چې يو له بل څخه د نيکيو په کارونو کې يو له بل څخه مخکې کيدل او رابللو به يې مونږ په رغبت کې او په ويری سره او مونږ ته عاجزي کوونکي ؤ.
په پورته آيت شريف کې الله تعالى پيغمبران په دری صفتونو سره ستايلي دي؛ عبارت دی: لومړی؛ د نيکيو په کارونو يو له بل څخه مخکې کيدل، دوهم: په ويری او رغبت سره دعاء غوښتل. دريم: د خپل پروردګار په وړاندې عاجزي کول.
دا دری صفتونه يواځې دا نه چې پيغمبران ورباندې وستايل شول؛ بلکې ددې لامل شو چې پيغمبران په خپلو ښمنانو برلاسي شي او دالله تعالى د کومک او مرستې باعث وګرځيدل.
دا ځکه چې که چيرې ددې څخه علاوه نور صفتونه په دوی کې موجود وای الله تعالى به د هغه صفتونو يادونه هم کړی وه.

۲-دعاء، زاري او دالله جل جلاله حضور ته د خپلو ټولو حاجتونو او ضرورتونو وړاندې کول د پیغمبرانو سنت ، د اولیاؤ غوره صفت، د متواضعو او واقعي مؤمنانو طریقه ده. الله جل جلاله فرمایلي دي:{أُولَـئِكَ الَّذِينَ يَدْعُونَ يَبْتَغُونَ إِلَى رَبِّهِمُ الْوَسِيلَةَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ وَيَرْجُونَ رَحْمَتَهُ وَيَخَافُونَ عَذَابَهُ إِنَّ عَذَابَ رَبِّكَ كَانَ مَحْذُورًا}الاسراء: (٥٧)

**ترجمه:** دا ( پیغمبران) هغه کسان دي چې دوی دعاء غواړي ( دخپل رب څخه) په داسې حال کې چې دوی په دعا سره لټوي خپل رب ته د نږدې کیدو ذریعه؛ چې کوم یو به ددوی څخه خپل رب ته نږدې وي او ویریږي د الله تعالی د عذاب څخه؛ بیشکه ستا د رب د عذاب څخه ویرول شوي دي مؤمنان.

همدا راز الله جل جلاله فرمایلي دي:{ إِنَّمَا يُؤْمِنُ بِآيَاتِنَا الَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُوا بِهَا خَرُّوا سُجَّدًا وَسَبَّحُوا بِحَمْدِ رَبِّهِمْ وَهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ۰ تَتَجَافَى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنفِقُونَ}السجده:(١٦)

**ترجمه:** بیشکه ایمان راوړي زمونږ په آیتونو هغه کسان کله چې دوی ته ددې آیتونو په وسیله پند ورکړل شي پریوزي په سجده باندې او پاکي بیانوي سره د حمده د خپل رب خپل او دوی تکبر نه کوي. وړاندې ساتي خپل اړخونه(بازوګان) د خوب د پریوتو له ځایونو څخه( قیام اللیل کوي)، رابلي خپل رب په حالت د ویرې او امید کې او له هغه شیانو چې دوی ته مو درزق لپاره ورکړي دي نفقه ورکوي(دالله تعالی په لاره کې).

بله دا چې دعاء د الله تعالی د خاصو بندګانو ډېر قوي او برجسته عبادت دی، الله جل جلاله فرمایي:{ إِنَّهُ كَانَ فَرِيقٌ مِّنْ عِبَادِي يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّاحِمِينَ} المؤمنون: (١٠٩)

**ترجمه:** بیشکه یو ډله زما د بندګانو څخه داسې وو چې داسې به ویل: ای ربه زمونږ! مونږ ایمان راوړی دی وبښه مونږ ته زمونږ ګناهونه او پر مونږ رحم وکړه او ته ترټولو زیات رحم کوونکی یې.

۳- الله جل جلاله دعاء غوښتل د عبادت په توګه معرفي کړی ده او داسې یې فرمایلي دي: { فَادْعُوهُ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ} غافر:(٦٥)

**ترجمه:** او دعاء وغواړئ له الله تعالی څخه په داسې حال کې چې خالص کوونکي یاست یواځې الله تعالی ته دعبادت، ثنا دې وي خاص الله تعالی لره چې پالونکی د مخلوقاتو دی.

۴-پیغمبرعلیه السلام د الله تعالی څخه ددعاء غوښتل د نور هرڅه څخه زیات با ارزښته ګڼلې ده او فرمایلي یې دي:( لیس شيء اکرم علی الله سبحانه من الدعاء)صحیح الادب المفرد.

**ترجمه:** الله تعالی ته له دعاء څخه پرته بل څه زیات عزتمن نشته.

دعاء له دې امله دنورو په نسبت با ارزښته ده چې پیغمبرعلیه السلام دعاء د عبادت مغز ګڼلی ده او دعاء یې د ټولو عباداتو اصل ګرځولی ده.

۵-الله جل جلاله په ګڼ شمیر آیتونو کې د دعاء په غوښتلو امر او توصیه کړی ده. الله تعالی فرمایي:{وَاسْأَلُواْ اللّهَ مِن فَضْلِهِ }النساء: (٣٢)ترجمه: د الله جل جلاله څخه د هغه دمهرباني وغواړئ.

په بل آیت کې فرمایي: {وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ}غافر:(٦٠)ترجمه:او وواېي پروردګار ستاسو چې زما څخه دعاء وغواړئ چې زه یې قبوله کړم.

همدا راز فرمایي:{فَادْعُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ}غافر: (١٤)

**ترجمه:** پس وغواړئ له الله تعالی څخه په داسې حال چې یواځې الله تعالی ته عبادت کوونکي اياست. اګر که بد یې بولي کافران.

همدا راز په یو بل آیت کې فرمایي:{ادْعُواْ رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُعْتَدِينَ}الاعراف(٥٥)

**ترجمه:** وغواړئ خپل پروردګار په عاجزی او په پټه سره ، بیشکه الله تعالی نه خوښوي له حده تیریدونکي.
۶- جنتیان او هغه کسان چې د جنت خوښي یې په برخه شوي وي د خپلې کامیابی راز او دجنهم څخه د خلاصون لار دعاء په ګوته کوي. الله تعالی د جنتیانو دحال څخه حکایت کوي:{فَمَنَّ اللَّهُ عَلَيْنَا وَوَقَانَا عَذَابَ السَّمُومِ () إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلُ نَدْعُوهُ إِنَّهُ هُوَ الْبَرُّ الرَّحِيمُ}الطور:(۲۸)
**ترجمه:** الله جل جلاله پر مونږ احسان وکړ او مونږ یي د وژونکي عذاب څخه وساتلو؛ دا ځکه چې مونږ مخکې په دنیا کې د الله تعالی څخه د( عذاب نه د خلاصون) دعاء غوښتله، بیشکه الله تعالی نیکوکار او مهربانه ذات دی.
۷-پیغمبرعلیه السلام دعاء خالص عبادت ګرځولی دی او فرمایلي دي:(الدعا هو العبادة) دعاء عبادت دی.
په یوبل روایت کې داسې راځي: (افضل العبادة هو الدعاء) دعاء غوره عبادت دی.
په یو بل حدیث کې پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي: (إن ربكم تبارك وتعالى حيى كريم يستحيى من عبده إذا رفع يديه إليه أن يردهما صفرا) سنن أبى داود-
ترجمه: بیشکه ستاسو رب حیاناک او سخي ذات دی دخپل بنده څخه حیا کوي کله چې بنده خپل دواړه لاسونه ورته پورته کړي، د هغه لاسونه خالي پریږدي.
۸- پیغمبر علیه السلام دعاء دخیر عمل معرفي کړی ده. په یو حدیث شریف کې پیغمبرعلیه السلام فرمایلي دي چې دعاء محض او خالص عبادت دی.( ما من مسلم يدعو ليس بإثم ولا بقطيعة رحم الا أعطاه إحدى ثلاث إما أن يعجل له دعوته وإما أن يدخرها له في الآخرة وإما أن يدفع عنه من السوء مثلها ) مسند احمد والأدب المفرد

**ترجمه:** هیڅ داسې مسلمان نشته چې د الله تعالی څخه داسې دعاء وغواړي چې ګناه په کې نه وي یا دصله رحمی پرې کیدل په کې نه وي ؛ مګر هغه له دریو خبرو څخه یوه ورکوي یا یې دعا ژر قبلوي، یایې ددعا اجر آخرت ته ساتي او ورڅخه دهغه ددعاء په څیر مصیب لرې کوي.
حافظ ابن حجر عسقلاني رحمة الله فرمایي: د هر دعاء کوونکي دعا قبلیږي ؛ البته د قبلیدو ډول یې متفاوت وي ؛ لکه داسې چې یا خو یې بعینه غوښتنه قبلیږي او یا هم په دنیا او آخرت ورته بدل ورکول کیږي.
۹-څوک چې د الله څخه دعا نه غواړي الله تعالی وربانديې په غضب کیږي.
پیغمبرعلیه السلام فرمایي: (من لم يسأل الله يغضب عليه)صحيح الادب المفرد، ترجمه: هرڅوک چې له الله تعالی څخه سوال ونه کړي ، هغه وربانديې په غضب کیږي.
۱۰- الله جل جلاله خپل پیغمبر ته حکم کوي چې د دعا خاوندانو ملګرتیا او ناسته پرې نږدی او کوښښ وکړه چې خپل زیات وخت ددعاء دخاوندانو سره تیر کړی. الله تعالی فرمایي:{ وَاصْبِرْ نَفْسَكَ مَعَ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ وَلَا تَعْدُ عَيْنَاكَ عَنْهُمْ }الكهف:(۲۸)

**ترجمه:**خپل زړه د هغه کسانو سره وتړه چې خپل رب صباح بیګا غواړي او دخپل رب رضا غواړي او خپلې سترګې ددوی څخه بلی خوا ته مه اړه وه.

۱۱-همدا راز الله تعالی خپل پیغمبرته حکم کوي چې ددعاء غوښتونکو ته هیڅ ډول ضرر مه رسوه. الله جل جلاله فرمایي:{وَلاَ تَطْرُدِ الَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَيْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَيْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ الظَّالِمِينَ}الانعام: (۵۲)

**ترجمه:** او مه شړه د خپل مجلس څخه هغه کسان چې خپل رب په صباح او بیګا کې غواړي ( دعا ورته کوي) او دخپل رب رضا غواړي، نشته ستا په عهده د هغوی دحساب څخه کوم شی او نشته ستا دحساب څخه کوم شی د هغوی په ذمه باندې، که چیرې تا دوی دخپل مجلس څخه پاځول ته به شی له ظالمانو څخه.

مونږ او تاسو پوهیږو چې په دې ډول آیتونو کې الله جل جلاله خپل پیغمبر مخاطب ګرځوي خو مطلب ورڅخه د پیغمبرعلیه السلام امت وي.

۱۲- الله تعالی فرمایي زه د ددعا غوښتونکو سره نږدې یم. فرمایي:{ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ }البقره:(۱۸۶)

**ترجمه:** کله چې ستا څخه زما بندګان زما په اړه پوښتنه وکړي ورته ووایه! زه دوی ته نږدې یم ، دعا قبلوم د ددعا کوونکو کله چې زما څخه څه وغواړي.
ددې آیت مبارک په شان نزول کې راځي: صحابه کرامو له پیغمبرعلیه السلام څخه داسې پوښتنه وکړه :(ربنا قریبٌ فنناجیه ، ام بعیدٌ فننادیه ؟فانزل الله عزوجل هذه آلایه)ابن کثیر

**ترجمه:**آیا زمونږ رب نږدې دی چې ورته په ارامه آواز وکړو او که لرې دی چې په دعا کې ورته په اوچت اواز ، اواز وکړو؟ الله تعالی ورته داسې وفرمایل: چې زه علماً دعاغوښتونکو ته نږدې یم.

۱۳-څوک چې پرځان دعا لازم وګڼي د بدبختیو څخه به په امان کې وي. الله تعالی دخپل پیغمبر زکریا علیه السلام وینا نقلوي او فرمایي:{ وَلَمْ أَكُن بِدُعَائِكَ رَبِّ شَقِيًّا}مریم: (٤)

**ترجمه:** او ای زما ربه! نه یم ستا په غوښتنه کې نا امیده.

همدا راز د ابراهیم علیه السلام په هکله فرمایي:{ عَسَى أَلَّا أَكُونَ بِدُعَاء رَبِّي شَقِيًّا}مریم: (٤٨)

**ترجمه:** امیدواره یم چې د خپل رب په دعا کې نا امیده نه یم.

۱۴-په یو بل حدیث شریف کې پیغمبرعلیه السلام فرمایي: (من سره أن یستجیب الله عز وجل له عند الشدائد والکرب فلیکثر الدعاء في الرخاء) سنن الترمذی

**ترجمه:** څوک چې دا خوښه ګڼي چې الله جل جلاله یي په سختیو او مصیب کې دعاء قبوله کړي باید په راحت کې زیاته دعاء وکړي.

**ددعاء ځیني شرطونه او آداب :**

په دې کې شک نشته چې دعاء د مشکلاتو د منځه وړلو او دمصیبوتونو د دفع لپاره تر ټولو قوي ترین سبب دی او دمسلمانانو لپاره د سلاح حیثیت لري او سلاح هغه وخت مؤثره تمامیږي چې د لوړ کیفیت څخه برخمنه وي او هغه مټ چې سلاح وربانديې استعمالیږي هم باید قوي او مضبوط وي.

بناءً دعا هم هغه وخت مؤثره، د مشکلاتو درفع کولو او د حاجتونو د پوره کولو لپاره مفیده تمامیږي چې ددعاء ټول شرطونه او آداب مراعت شي.

په تیرکي مو ددعاء ځیني شرطونو ته اشاره وکړه مخکې له دې چې ددعاء آداب ذکر کړو ځیني شرطونه یي هم ذکر کوو:

۱-دعاء غوښتونکی باید له مخکې دا حقیقت درک کړي چې ددعا دقبلولو قدرت یواځې د الله جل جلاله دی او بس.
۲-دعاء غوښتونکی دعاء یواځې د الله جل جلاله څخه وغواړي.
۳-دعاء غوښتونکی باید کوښش وکړي چې ددعاء څخه مخکې نیک عمل انجام کړي لکه لمونځ، د الله جل جلاله

اسماء او صفات وسیله کول، په پیغمبرعلیه السلام درود ویل، خیرات او صدقه او داسې نور.
۴- ددعاء په قبلیدو کې د عجلې څخه ځان ساتل.
۵- دخیر دعاء غوښتل.
۶- په الله جل جلاله باندې نیک گمان ساتل.
۷-د زړه د حضور سره دعاء لوستل.
۸-ددعاء غوښتونکي خوراک، څښاک او جامې باید حلالې وي.
۹- دعاء کوونکی باید په دعاء کې له حده تجاوز ونه کړي.

**د دعاء آداب او د قبلیدو اسباب:**

۱. قلبي اخلاص درلودل.
۲. ددعاء شروع او ختم په حمد، ثناء او په پیغمبرعلیه السلام درود ویلو باندې.
۳. په یقین او جزم سره دعاء غوښتل او په دې یقین درلودل چې الله تعالی یې قبلوي.
۴. په دعاء کې الحاح او اصرار او دعجلې څخه ځان ساتل.
۵. د زړه دحضور سره دعا غوښتل.
۶. په سختیو او آسانۍ دواړه حالاتو کې دعا غوښتل.
۷. خپل ځان، اولاد، مال اوخپلوانو ته د بد رد ویلو څخه ځان ساتل.
۸. په نرم او اهسته آواز سره دعاء کول.
۹. د گناهونو د مغفرت لپاره په دعا کې په خپلو گناهونو اعتراف کول او دهغې د ښننې غوښتنه او د نعمتونو د غوښتلو لپاره د الله تعالی د نعمتونو شکر ویستل او داء کول.
۱۰. په دعا کې د سجع او قافیې او تکلف څخه ځان ساتل.
۱۱. په خشوع او خضوع سره دعاء غوښتل او ددعاء دقبلیدو امید درلودل.
۱۲. حق خپل حقدار ته سپارل او دگناهونو څخه توبه ویستل.
۱۳. ددعاء پر وخت قبلې ته مخ اړول.
۱۴. په دعاء کې لاس اوچتول.
۱۵. دامکان په صورت کې په اوداسه سره دعاء غوښتل.
۱۶. که چیرې وغواړي چې بل چا ته دعاء وکړي اول باید دخپل ځان په اړه دعاء وکړي.
۱۷. د گناهونو څخه ځان ساتل.

## ددعاء د قبلیدو وختونه او ځایونه:

۱. د لیلة القدر شپه.
۲. دشپې آخیرنۍ حصه چې سهار ته نږدې وي.
۳. د لماسخوتن لمانځه وروسته.
۴. د آذان او اقامت ترمنځ دعاء کول.
۵. د آذان پر وخت دعاء.
۶. د باران د وریدو پر وخت.
۷. د اسلام ددښمنانو سره د مبارزې پروخت دعاء کول.
۸. د جمعې په ورځ دعاء کول چې دامام نووي په قول باید دجمعې دسهارڅخه تر غروب پورې ادامه لري.
۹. د زم زم اوبو څښلو پر وخت دعاء.
۱۰. د حج او عمرې سفر پر وخت دعاء.

١١. دمرض په حالت کې دعاء.
١٢. د سفر په حالت کې دعاء.
١٣. د عرفي په ورځ په عرفات په ميدان کې دعاء غوښتل.
١٤. د يو مسلمان دبل غاېب مسلمان په حق کې دعاء غوښتل.
١٥. د روژه ماتي پر وخت دعاء غوښتل.
١٦. د مظلوم دعاء.
١٧. د مور او پلار دعاء اولاد ته.
١٨. د مجبور او پريوتي شخص دعاء.
١٩. د اودس څخه وروسته دعاء.
٢٠. د بيت الله په طواف کې دعاء.
٢١. د ملتزم سره دعاء.
٢٢. د مقام ابراهيم سره دعاء.
٢٣. د عرفي په ورځ په عرفات کې دعاء.
٢٤. په صفا او مروه سره دعاء.
٢٥. د جمرو د ويشتلو څخه وروسته دعاء.
٢٦. په مزدلفه کې دعاء.

وفي رسالة الحسن البصري رحمه الله الى اهل مكة أن الدعاء يستجاب هنالك في خمسة عشر موضعا : في الطواف ، وعند الملتزم ، وتحت الميزاب ، وفي البيت ، وعند زمزم ، وعلى الصفا والمروة ، وفي المسعى ، وخلف المقام ، وفي عرفات ، وفي المزدلفة ، وفي منى ، وعند الجمرات الثلاث ، فمحروم من لا يجتهد في الدعاء فيها.شرح فتح القدير (٢/ ٥٠٨) ،الأذكار - النووي (ص: ١٩٥)

اقول قولی هذا استغفرو الله لی ولکم ولسائر المسلمين ...